PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولې یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

# اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

### درس قرآن

هر څوک چې يو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته يا يې له فساده په ځمکه کې ووژني نو گواکې ټول خلک يې وژلي دي او هر چا چې دغه يو نفس ژوندی کړي نو گواکې ټول خلک يې ژوندي کړي دي.
(المائدة: ۳۲)

### درس حدیث

از ابن مسعود رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: نزدیکترین مردم به من در روز قیامت (برای شفاعت) آنانی اند که از همه بیشتر بر من درود می فرستند. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۲۳ مه گڼه، پرله پسې ۲۲۲ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د وږی ۶ مه د۱۴۳۴ هـ ق د شوال ۲۱ مه د۲۰۱۳ م د اگست ۲۸ مه

# د سولې شورى او طالبانو ترمنځ خبرو ته زمينه برابرول د دواړو خواوو د خبرو اصلي محور و

دواړو خواوو پر يو شمېر اقتصادي مسايلو لکه، د تورخم - جلال اباد د دويم سړک جوړول، له پاکستانه افغانستان ته د اورگاډي پټلۍ غځول او پر کونړ سيند د برېښنا د بند جوړولو سند لاسليک کړي دي.

کابل، رسنۍ:
ولسمشر کرزی پاکستان ته دوه ورځنۍ سفر وروسته نن نږدې مازديگر بېرته هېواد ته راستون شو.
د افغانستان ولسمشری ماڼۍ له خوا په يوې خبرې شوې اعلاميې کې ويل شوي؛ چې ولسمشر کرزي د پاکستان له ملکي او نظامي چارواکو سره په بېلابېلو مسايلو خبرې کړي دي.

پاتې ۴ مخ

ذکی:
## در منزل جنرال دوستم روی انتخابات آیند بحث صورت گرفت

در این نشست داکتر زلمی خلیلزاد سفیر سابق امریکا در کابل، علی احمد جلالی وزیر داخلهء پیشین، قیوم کرزی برادر حامد کرزی، عبدالله عبدالله رهبر ایتلاف ملی، احمد ضیا مسعود رهبر جبههء ملی، یونس قانونی، حاجی محمد محقق، حنیف اتمر، عطا محمد نور والی بلخ و امرالله صالح اشتراک داشتند.

رهبران احزاب و شخصیت های سیاسی افغانستان در حالی در منزل جنرال عبدالرشید دوستم دور هم جمع شدند که در این روز ها بحث و چانه زنی ها در مورد کاندیداتوری اشخاص برای انتخابات ریاست جمهوری سال آیندهء هجری افزایش یافته است.
اما جنبش اسلامی افغانستان به رهبری آقای دوستم که میزبانی نشست شب گذشته را به عهده داشت می گوید که در این نشست اشتراک کننده ها بیشتر روی شفافیت و برگزاری انتخابات سال آینده صحبت کرده اند.

بقیه در صفحه ۴

زرداری:
## همکاری با افغانستان برای منافع پاکستان نیز نقش حیاتی دارد

برای هردوکشور، مهمترین نگرانی، نبود امنیت برای اتباع این کشور ها وتهدید های تروریستی است که مردم ما، حکومت ما، سربازان ما و نیرو های امنیتی ما را هدف حمله قرار می دهند. در اینجا، ما نیاز داریم که توجه مهم از سوی هر دو حکومت به همین مورد متمرکز باشد. (کرزی)

کابل، رسانه ها:
رییس جمهور پاکستان در دیدار با همتای افغان اش گفته است: اسلام آباد به هر گونه حمایت برای صلح و ثبات افغانستان متعهد می ماند.
رهبران پاکستان در دیدار روز نخست رییس جمهور کرزی برای هر گونه همکاری در تلاش های صلح افغانستان تعهد سپرده اند.
آصف علی زرداری رییس جمهور پاکستان شام دیروز با آقای کرزی دیدار کرد و گفت: کشورش باز هم تاکید می کند که هر تلاش ممکن را برای ثبات،

بقیه در صفحه ۴

## هرات کې د ملي پيوستون شپږ کارکوونکي وژل شوي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان لوېديځ هرات ولايت کې د ملي پيوستون شپږ کارکوونکي وژل شوي.

پاتې ۴ مخ

## اسلام اباد ته د کرزي پر سفر د پاکستاني مطبوعاتو څرگندونې

پاکستان، رسنۍ:
د پاکستان چاپ خپرو ورځپاڼو او د دغه هېواد خبري تلويزيونونو پاکستان ته د ولسمشر حامد کرزي د سفر په اړه ليکنې او تبصرې کړي دي:
د پاکستان دولتي تلويزيون:
د پاکستان دولتي تلويزيون يا (پي ټي وي) اسلام اباد ته د حامد کرزي سفر ډېر مهم بللی او وايي، چې د افغان ولسمشر دا سفر کولای شي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکي لا پراخې کړي.
د تلويزيون د خبر له مخې، اسلام اباد ته د حامد کرزي سفر د دواړو هېوادونو ترمنځ د نويو اړيکيو د پيل زېری دی.
ايکسپريس:
د پاکستان د شخصي تلويزيون ايکسپريس نيوز د خبر له مخې، د افغان ولسمشر حامد کرزي له خوا د پاکستان د صدراعظم نواز شريف بلنه منل، ددې خبرې شاهدي ورکوي چې...

پاتې ۴ مخ

## بانک جهانی پنج میلیون دالر به وزارت تحصیلات عالی کمک کرد

کابل، رسانه ها:
وزارت تحصیلات عالی، از کمک ۵ میلیون دالری بانک جهانی با این وزارت و ایجاد پوهنځی معدن در چوکات پوهنتون بلخ به کمک آلمان، خبر داد.
در خبرنامهٔ وزارت تحصیلات عالی آمده است که پنج میلیون دالر امریکایی یادشده، در برنامه ریزی و دیزاین پروژه های بخش تجهیز لابراتوارها، چاپ نصاب جدید و اعزام استادان جهت تحصیل به سطح ماستری به خارج از کشور، به مصرف خواهد رسید.

بقیه در صفحه ۴

## د علم او عرفان يوه بله ډيوه مړه شوه

دریم مخ

هېگل:
## امريکايي پوځيان پر سوريې بريد ته چمتو دي

"زموږ لومړيتوب تل د نړيوالې ټولنې سره په گډه د ملگرو ملتونو د پرېکړو پر بنسټ ده خو که د ملگرو ملتونو امنيت شورا ونه توانېږي چې په دې اړه پرېکړه وکړي، نو پر ځای به يې بل گام پورته کړي." (داوود اوغلو)

د امريکا د دفاع وزير چک هېگل بي بي سي ته ويلي، که ولسمشر اوباما امر وکړي، امريکايي ځواکونه د سوريې پر وړاندې پوځي گام پورته کولو ته چمتو دي.
نباغلي هېگل ويل، چې پوځي ښستونه د چمتوالي په حال کې دي او د ولسمشر اوباما انتخاب ته په تمه دي.
ده ويل، ده ته په زياتېدونکي ډول څرگنده ده، چې د سوريې حکومت د تېرې اوونۍ د کيمياوي وسلو د شکمن بريد مسوليت پر غاړه درلود.
خو نوموړي ويل چې امريکا به د کره مالوماتو تر ترلاسه کولو ته انتظار وباسي.
تر ښاغلي هېگل وړاندې د امريکا د بهرنيو چارو وزير جان کېري د سوري وگرو پر وړاندې د کيمياوي وسلو کارول، غندلي دي.
ښاغلي کېري ويل، د بريد عکسونه چې د پلازمېنې دمشق...

پاتې دريم مخ

## چینایی ها خواستار شرایط جدید در قرارداد مس عینک شده اند

معدن مس عینک دارای بیشترین مقدار مس در جهان بوده و در یک ولایت خطرناک افغانستان موقعیت دارد که اکثراً مورد حملهء شورشیان قرار می گیرد. شورشیان موفق شده اند کار استخراج از این معدن را به تعویق انداخته، کارگران آن را با فرار مواجه سازند

کابل، رسانه ها:
وزارت معدن افغانستان می گوید، گروپ بهره برداری از فلزات چین (MCC) و شرکت جینگ سای کاپر (Jiangxi Copper) خواستار شرایط جدیدی شده اند که دادن حق الامتیاز به حکومت افغانستان در آن کاهش داده شده، از تعهد ساختن دستگاه تولید برق و فابریکهء ذوب فلزات معاف شوند وساختن خط آهن نیز به تعویق انداخته شود.
آژانس خبری رویترز می نویسد، سرمایه گذاران چینایی خواستار بازنگری در این قرارداد ۳ ملیارد دالری شده اند و بدین وسیله بزرگترین امیدهای کابل در زمینهء رسیدن به استقلال اقتصادی در مخاطره قرار گرفته است.
سخنگوی وزارت معدن افغانستان می گوید،

بقیه در صفحه ۳

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# پاکستان او افغانستان د یو بل د استحکام بنسټیزې ډبرې دي

د افغانستان ولسمشر ښاغلی کرزی او د پاکستان صدراعظم ښاغلی نواز شریف د دوشنبې په ورځ په اسلام آباد کې پخپلو کې تر دوه ساعته خبرو اترو وروسته په یوې گډې خبري غونډه کې د دواړه هېوادو ترمنځ د اړیکو ښه کولو او په افغانستان کې د سولې او ثبات د رامنځته کولو په اړه له هیلو نه ډکې ژمنې وکړی. الله دې وکړي چې دغه ژمنې ژر تر ژره په عملي بڼه کې ښکاره او د دواړو گاونډیو هېوادو ترمنځ د بې باورۍ فضأ تل لپاره ختمه شي.

دا چې په راتلونکی کې به دغه خبرې اترې څومره نتیجې ورکړي ددې ځواب به راتلونکی ورځې ورکړي. البته په دې خبره هم ډېر ژور غور او فکر پکار دی چې تر اوسه پورې پاکستان او افغانستان پخپلو کې د ترینګلو اړیکو په نتیجه کې گټه ډیره کړی او که تاوان؟! حقیقت د لمر په څېر څرگند دی. که د پاکستان د نه همکاری له کبله افغانستان د بم او باروتو په بټۍ بدله شوی نو پاکستان هم د گلونو په بڼ نه دی بدل شوې، ددې لمبې او سکروټې هلته هم د بې گناه وگړو ژوند اخلي.

زمکنیو حقایقو دا ثابته کړه چې په افغانستان کې لګیدلې اور یواځې دا افغانستان په پولو کې بند پاتې نه شو بلکې د پاکستان هېواد ته هم ددې لمنه په پراخه کچه وغځیدلده، شاید پاکستان پخپل تاریخ کې دومره بې امني نه وي لیدلی څومره چې په اوسنیو وختونو کې ورسره لاس او گریوان دی ځکه خو د پاکستان هر ولسمشر چار او ناچار دا خبره له خولې وباسي چې یو با ثباته او پرامنه افغانستان د پاکستان په گټه دی. مگر متأسفانه پر اصل حقیقت د پوهېدو باوجود.بیا هم خپل صحیح مسؤلیت په ترسره کولو کې پاتې راغلی دی، خیر مخکې چې هر څه شوي هغه شوي، هر چا چې په دې لاره کې غفلت او ناغیز؛ ړې هغه لویه تېروتنه کړی، خو ددې جبران دا هم نه دی چې د غلطۍ له پاسه نورې غلطۍ هم وشي او په دې توگه په رلدل کې خپل ځانونه نور هم غرق کړي، بلکې لدینه د خلاصون لاره داده چې دوه ورور گاونډي هېوادونه په گډه له دغې بلا نه د نجات په خاطر سلامشوره وکړي او هغه تشه ډکه کړي چې د دواړو هېوادو استحکام یې له گواښ سره مخامخ کړې دی، له څه شک پرته پاکستان د یو لوی پوځي او صنعتي هېواد په توگه زیات مسؤلیت لري چې په دې لاره کې لومړی گام پورته کړي، د افغان دولت او وسلوالو مخالفینو ترمنځ د عادلانه روغې جوړې په راوستلو کې له خپل اثر او رسوخ څخه کار واخلي تر څو افغانستان د امن او استحکام په گواره بدله او د پاکستاني مشرانو دا خبره چې یو مستحکم او باثباته افغانستان د پاکستان په گټه دی تحقق ومومي، که نه نو د اسیا په زړه کې لګیدلې اور به پاکستان هم ستي کړي.

اعزامی

# مصر، از انقلاب تا کودتا

افسران ارتش مصر به تأسی از نقش قدم اسلاف خود با راه اندازی یک کودتای نظامی دیگر، دموکراسی نوپای مصر را بی رحمانه درگلوها خفه کردند و با شلیک گلوله بر روی تظاهر کنندگان بیدفاع، صد ها نفر را به خاک و خون کشانده و هزاران دیگر را مجروح

نمودند. تقریباً یک سال قبل مردم مصر پس از تحمل سال ها ظالم ، شکنجه و خفقان ، از اسارت دکتاتوران نظامی گرا وارهیده و بسوی انتخابات روآوردند و با ریختن آرآی خویش در صندوق های رأی، رئیس جمهور خویش را انتخاب کردند. نتیجه شمارش آرا نشان داد که اکثریت مردم مصر به کاندید حزب اخوان المسلمین (محمد مرسی) رأی داده اند. حزبی که در طول دوران حاکمیت نظامیان از جنرال نجیب گرفته تا جمال ناصر و سادات و مبارک؛ فعالیت آن غیر قانونی بود و اعضای آن طی نیم قرن با بدترین شیوه ها توسط حکام وقت سرکوب شده اند.

دو نیم سال قبل (۲۰۱۱) اعضای حزب اخوان المسلمین، در یک قیام تاریخی همراه با سایر احزاب سیاسی جامعه مصر اعم از راست و چپ علیه رژیم حسنی مبارک به پاخاسته و با راه اندازی تظاهرات اعتراض آمیز علیه شیوهٔ حکومت ظالمانه و سرکوبگرانهٔ رژیم ملیتاریستی حسنی مبارک در میدان تحریر شهر قاهره تحصن جستند. نیروهای امنیتی رژیم ، در برابر تظاهر کننده گان با بی رحمی و در جریان درگیری ها به تعداد ۸۰۰ نفر شهید و به هزاران تن دیگر زخمی شدند. مقاومت دلیرانهٔ و تظاهر کنندگان در برابر نیروهای امنیتی رژیم ادامه یافت تا اینکه حسنی مبارک مجبور به کناره گیری از قدرت شد و با پیروزی انقلاب ، مردم مسلمان مصر برسرنوشت سیاسی خویش حاکم شدند.

نسیم انقلاب در مصر محدود نماند ، بلکه رایحهٔ آزادیخواهی به برون از مرز های مصر سرایت کرد و به پیروی از قیام مصری ها در برابر دکتاتوری حسنی مبارک ، قیام های مشابهی در همسایگی مصر در تونس و لیبیا آغاز گردید و این حرکت نجات بخش بنام بهار عرب همهٔ شرق میانه را فرا گرفت. مظاهر قیام از کشور های شمال افریقا فراتر رفت و امواج آزادی خواهی رژیم های مطلقه یمن، بحرین و سوریه را نیز آماج قرار داد. پس از سقوط رژیم مبارک بدست انقلابیون مصری، رژیم های دکتاتوری زین العابدین در تونس، معمر قذافی در لیبی و عبدالله صالح در یمن را یکی پی دیگر از صحنه زایل شدند؛ مگر علم برداران بهار عرب در بحرین سرکوب شدند و خاندان آل خلیفه در برابر مخالفان سر تسلیم ننهاد. همچنان حرکت انقلابیون سوری در برابر رژیم دکتاتوری بشار اسد در سوریه با مقاومت روبرو شد و سرنوشت این قیام با دادن صد هزار کشته و ویرانی سوریه هنوز روشن نیست.

پس از سقوط رژیم دکتاتوری حسنی مبارک ، تحت نظارت نظامیان در مصر، حکومت موقت مصر تشکیل شد و حکومت متعهد شد تا در ظرف یک سال مسوده قانون اساسی جدید مصر را تهیه نماید ، انتخابات آزاد و عادلانه را برگزار نماید و حکام قبلی مصر را محاکمه نماید. در نتیجه انتخابات یک سال قبل حزب محمد مرسی با کسب اکثریت آراء ، برنده انتخابات ریاست جمهوری اعلان گردید و نامبرده طی مراسمی توسط قاضی القضات مصر، به صفت اولین رئیس جمهور منتخب آن کشور سوگند وفاداری یاد کرد. نظامیان مصری از همان روز های اول با تحولات منبعث از بهار عرب در مصر موافق نبودند، زیرا افسران عالیرتبهٔ ارتش مصر اغلباً یاران و دست پروردگان دکتاتوران گذشتهٔ این دیار چون ناصر، سادات و مبارک می باشند و اینها مانند مربیان شان به زورگویی و قلدری بزرگ شده اند و تحمل قبول حکومت اسلامگرای مرسی را اندارد بناءً اینها از بدو امر تا اکنون در برابر دولت مردم سالار محمد مرسی سنگ اندازی می نمودند. چنانچه در روز های اول آغاز کار حکومت ، در کار انتقال قدرت، تجدید نظر بر قانون اساسی آوردن فشار بر قوهٔ قضایی جهت انحلال غیر قانونی پارلمان و جابجایی چهره های جدید مخالفت کردند ، بعدتر با تحریک مخالفان سیاسی مرسی در داخل و تخویف قدرت های بزرگ در خارج مصر، در برابر حکومت منتخب مانع تراشی کردند.

افسران ارتش از همان روز های اول بقدرت رسیدن حزب اخوان المسلمین قصد کودتا داشتند. مگر فشار ذهنیت عامه در داخل و خارج مصر باعث شد که مدتی انتظار بکشند و پس از چند ماه مخالفان سیاسی مرسی را تحریک کردند تا در مراسم یک سالگی به رسیدن او به تظاهرات و تحصن بپردازند و خود شان به بهانهٔ برقراری نظم و آرامش دسیسهٔ کودتا را چیده و رژیم مردمی و منتخب مرسی را از صحنه ساقط نمایند. چنانچه نظامیان همین نقشه را قدم به قدم تطبیق کردند و خلاف احکام قانون اساسی مصر و در تناقض با تمامی نورم های حقوق بشری ، دموکراسی و معاهدات بین المللی، رئیس جمهور تازه منتخب مصر را زندانی و دولت او را سرنگون کردند.

همزمان با کودتای افسران ارتش ، ملت مسلمان مصر بر محور حزب اخوان المسلمین به پا خاستند تا از رجعت دوبارهٔ مصر تحت حاکمیت نظامیان ستمگر جلوگیری نمایند. مسلمانان مصری یاد و خاطرهٔ قیام دو سال قبل خویش را در میدان تحریر گرامی داشتند و با راه اندازی تظاهرات ملیونی در سراسر مصر، خواهان اعاده و برگشت حکومت مردمی محمد مرسی به قدرت شدند. کودتاچیان به رسم سلف خویش در برابر تظاهر کنندگان با میلهٔ تفنگ برخورد کردند و با شلیک گلوله های آتشین به روی تظاهرکنندگان بیدفاع ، صد ها نفر را بخاک و خون غلطانیدند و هزاران تن دیگر را مجروح ساختند. قتل عام و کشتار وحشیانهٔ مردم توسط کودتاچیان، بجای آنکه قیام خاموش شود، خشم تظاهر کنندگان تشدید کرد و هر روز بر تعداد آنها افزود شده می رود. نظامیان مردم ستیز به هیچ منطقی جز زور پابند نیستند.

کشور های غربی در رأس ایالات متحدهٔ امریکا به عنوان منادیان دموکراسی و حقوق بشر با اتخاذ سیاست کجدار و مریز در قبال کودتای افسران مصری، به آنها فرصت می دهد تا به کشتار ملت مصر ادامه بدهند تا اینکه فریاد هوا خواهان آزادی و مردم سالاری با ریختن خون آنها در میدان ها و جاده های مصر به خاموشی بگراید. اگر به عوض مسلمانان، مسیحی ها، چپی ها، سکولرها و لائیک ها چنین قیامی را می کردند، بدون شک غرب با راه اندازی تبلیغات وسیع ، اعمال فشار های سیاسی و در نهایت تهدید نظامی، از تظاهر کنندگان چنان حمایت می نمود که در لیبی و سوریه کردند. ولی حالا که فریاد دموکراسی و آزادی خواهی از حنجرهٔ مسلمانان سرداده می شود و از دولت اسلام گرای محمد مرسی حمایت می کنند ، آن ها به حل معضله از راه مصالحه ، سازش و میانجیگری تأکید دارند و حتی اقدام جنرالان ارتش را کودتا نمی خوانند تا مبادا در ارسال کومکهای امریکا به رژیم کودتایی نظامیان مصر سکتگی پیش شود!

قیام ملت مسلمان مصر علیه کودتاچیان، حق مسلم و قانونی آنها برای تحقق مظاهر دموکراسی و اعادهٔ دولت منتخب محمد مرسی در آن کشور می باشد. سرکوبی و کشتار بی رحمانهٔ مظاهره چیان، جنایت آشکاری است که با هیچ قاعده و منطقی قابل توجیه نبوده و عاملین این کشتار باید مانند حسنی مبارک محاکمه انقلابی شوند.

اگر جامعهٔ جهانی و نهاد های مدعی مدافع حقوق بشر و دموکراسی، بیشتر از ین در برابر جنایات نظامیان علیهٔ ملت مسلمان مصر ناظر و تماشاچی باقی بمانند و برای تقبیح و جلوگیری از اعمال وحشیانهٔ آنها عملاً اقدام ننمایند، چنین برخوردی در حقیقت مشارکت با جنایتکاران برای ذبح دموکراسی نوپا و خفه کردن فریاد آزادیخواهی در مصر می باشد.

خشونت های جاری در مصر، آزمون بزرگی برای اثبات صدق و کذب مدعیان آزادیخواهی و مردم سالاری است. هرچند مدعیان مذکور در گذشته در جریان تحولات سیاسی الجزایر و فلسطین و امتحان خود را داده اند، مگر با آنهم دیده شود که آنها این بار با قاتلین ملت آزاده و مسلمان مصر چه میکنند؟!

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
@yahoo.com

# عزت په مفتو کې نه ترلاسه کېږي

شهسوار صافی

موږ افغانان باید دا حقیقت ومنو چې زموږ عزت، بری او سرلوړي زموږ په اتفاق او یووالي کې مضمر دی تر څو پورې چې موږ پخپلو کې یو موټې او یو غړ نه شو د یو بل ملتې او بازو جوړ نه شو د دنیا یو څواک هم موږ د ذلت او ناکامي له ژونده نشي ژغورلې.

موږ افغانان د عزت او وقار ژوند غوښتنه خو کوو مګر هغه حالات او شرایط ورته نه برابروو چې د عزت او وقار ژوند ورپورې منحصر دی.

په دې خبره هر افغان پوهېږي چې بې اتفاقي، اختلاف او افتراق د ولس زور څواک له منځه وړي او کوم ولس چې له زور څواک نه ولوېږي هغه بیا د عزت او وقار مرتبه نشي ترلاسه کولې، دښمنان له هغوی نه هېڅ ډول ویره نه کوي او خبرو ته یې هېڅ ارزښت نه ورکوي. دهغوی له بې اتفاقۍ نه ناوړه ګټه پورته کوي او د خپل ولس د وژلو لپاره ورته پیسې او وسله ورکوي لکه چې زموږ افغانان ددغې بیلګې ژوندي ثبوتونه دي. که څه هم په دولت کې شریکې ډلې ټپلې مخالفین په دې تورنوي چې هغوی د پردیو ګوډاګیان دي او د نورو په قومانده خپل هېواد ورانوي. خو که په دولت کې شریکو ډلو ټپلو ته وکتل شي نو هغوی هم د افغانستان په ورانولو کې له نورو نه کم نه دي، همدوی دي چې قومي، ژبني او سمتي تعصبونو ته پراخه لمنه وهي، همدوی دي چې پخپلو وزارتونو کې غلاوې او درغلۍ کوي او هر وخت چور، تالان، غصب او نور ډول ډول د جرایمو ارتکاب ته چمتو ولاړ دي. د قمار، شراب، هیروئین، قاچاق او نورو ناوړو کاربارېانو سرپرستي همدوی کوي، د شجاعي په څېر لسګونه وحشي قاتلان همدوی ساتلي دي. د شرم خبره لا دا چې د هلمند ولایت د ۱۸ کسانو قاتل امریکایي پوځي ته خو د عمرقید سزا ورکول کېږي، مګر په افغانستان کې د لسګونو بې ګناه وګړو قاتل شجاعي لږ تر لږه عدالت ته هم څوک نشي راوستلې او سرې سترګې په پوره غرور د بې ګناه افغانانو په وژلو بوخت دی. دلته هر لوړ پوړي خپلواک پاچا دی نه څوک ترینه پوښتنه کولې شي او نه ګرویږنه، واجب الاحترام هم دی او واجب الاطاعت هم، دهغه هره خبره د کاڼي کرښه او د منلو وړ ده، پر هغه تنقید کوونکی ګستاخ او د سختې سزا مستحق پیژندل کېږي، ډېری هغه کسان ډبول شوي چې د حقایقو د بربنډولو کوشش یې کړیدی.

مګر ددې ټولو باوجود همدغه جنابان پخپلو مرکو او شننو کې شکایت او ګیلی کوي چې د نړۍ هېوادونه زموږ خبرو ته غوږ نه ږدي، له موږ سره خپلې کړې وعدې نه پوره کوي، د ولسمشر او نورو لوړ پوړو چارواکو سفرونه ناکامېږي په داسې حال کې چې ددې ټولو ستر لامل همدوی پخپله دي، دهغه ولسمشر خبرو ته به څوک اهمیت ورکړي چې پخپله د هېواد خلک ورته غل او فاسد وایي دهغه چارواکو خبرو ته به څوک غوږ کېږدي چې د خپل ولس وینې زبیښي.

معمول دا دی چې د کوم هېواد ولسمشر بل هېواد ته په سفر ځي مطبوعات او رسنۍ دهغه د ملاتړ خبرې کوي مشورې ورته ورکوي او صفت یې کوي مګر دلته ولسمشر لا به سفر نه وي تللی چې په رسنیو کې له وړاندېنه دهغه د ناکامی ډنډورې غږول کېږي، هغه ته د لیوني او کم عقل خطاب کېږي. څرګنده خبره ده چې که یو ولس د خپل ولسمشر عزت پخپله نه کوي نو د نور هېوادو خلک به ولې دهغه عزت کوي؟ زموږ د مشرانو خبرې خو به هله منل شوي وای چې ولس په بشپړ ډول دهغه تر شا ولاړ وای، د افغانانو عزت او وقار به هله شوی و چې دوی پخپلو کې د یو بل قدر او عزت پیژندلې وای، د رهبرانو وزن خو به هله پیژندل شوی و چې هغوی د خپل ولس د خیر ښېګړې او خدمت لپاره پلانونه وړاندې کړی وای، او د جګړې پرځای ورته د یو د بل د زغملو توصیه کړی وای. د خپلې خاورې د خدمت او دفاع لپاره یو موټي او یو غړ شوي وای. خو ډېر افسوس موږ په مفتو کې عزت غواړو او هغه کارونه نه کوو چې د عزت او وقار باعث ګرځي، موږ باید په یاد ولرو چې زموږ عزت او ذلت زموږ له عملونو سره تړاو لري تر څو پورې چې د ذلت له کارونو څخه لاس وانخلو او د عزت کارونه پر ځان لازم ونه ګرځو کله به هم د عزت ژوند ترلاسه نکړو او بالاخر به د غلامي زنځیر زموږ پر غاړو اچول کېږي او د بل چا په چوپړ کې به د غلامي ذلیل ژوند تېروو.

## امریکایي پوځیان پر سوریې ...

... په لمنو کې د کېمیاوي وسلو د کارولو په اړه اخیستل شوي 'ریښتوني او قانع کوونکي ' دي او انکار تري نه شي کېدای.

ده وویل: "تېروته مه کوئ. ښاغلي اوباما په دې باور دی، هغه څوک چې د نړۍ تر ټولو خطرناکه وسله په تر ټولو اغیزمن شوې طبقې کاروي، باید مسوول وپېژندل شي ".

### د وسلو پلټونکي

په سوریه کې دملګرومللتونو پلټونکي دنېړې اونۍ د کیمیاوي وسلو دشکمن برید په اړه دخپلو پلټنو په دویمه ورځ یوې بلې سیمې ته سفر کوي.

د دوشنبې په ورځ دغو پلټونکو د دمشق په څنډه کې یوه ځای ته سفر وکړ.

په یاده سیمه کې دوی دوو روغتونونو ته ورغلل، له عیني شاهدانو سره یې مرکې وکړې او د وینې سمپلونه یا نمونې یې واخیستې.

له بریده ژوندي پاتې شویو کوچنیانو د هغې بمباری شدت بیان کړی چې داسې ښکاري زهرجن ګاز پکې کارول شوی دی.

دوی ویلي، چې الوتکو او ټانکونو دواړو په یاد برید کې برخه اخیستې وه.

د سوریې حکومت او یاغیانو دواړو د دغه برید پړه پر یوه بل اچولې ده.

### د سوریې غبرګون

خو د سوریې بهرنیو چارو وزیر ولید المعلم په "څرګنده او بشپړه توګه " دا خبره ردوې چې حکومتي ځواکونو دې کیمیاوي وسلې کارولې وي.

ښاغلي المعلم ورسته له هغه دا څرګندونې په دمشق کې یوه خبري کنفرانس ته کړې چې امریکا ویلي، د کیمیاوي وسلو د برید داسې نښې نښانې شته چې "ردېدی نه شي ".

د سوریې د بهرنیو چارو وزیر وویل د ملګرو ملتونو پلټونکو دله نه ده توانېدلې چې د کیمیاوي وسلو کارونې دویم ځای ته ورشي، ځکه چې د یاغیانو له لورې درول شوي دي.

### د ترکیې غوښتنه

د ترکیې حکومت هم پر نړیوالې ټولنې غږ کړی، چې په سوریه کې د کیمیاوي وسلو د کارول کېدو پر وړاندې پوځي ګام پورته کړي.

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر احمد داود اوغلو ویلي که د ملګرو ملتو د امنیت شورا په کچه د سورېې کړکیچ د حل لپاره اقدام ونه شي، ترکیه به د سوریې پر ضد له بل هر نړیوال ایتلاف سره یو ځای شي.

ښاغلي داود اوغلو وویل: "زموږ لومړیتوب تل د نړیوالې ټولنې سره په ګډه د ملګرو ملتونو د پرېکړو پر بنسټ ده. خو که د ملګرو ملتونو امنیت شورا ونه توانېږي چې په دې اړه پرېکړه وکړي، نو پر ځای به یې بل ګام پورته کړي ".

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر زیاته کړه د شاوخوا ۳۶ هېوادونو یوه ډله د سوریې په کړکیچ کې د مداخلې پر لارو چارو فکر کوي.

ښاغلي احمد اوغلو وویل: "که د دغه بهیر په منځ کې د سوریې پر ضد کوم ایتلاف جوړ شي، نو ترکیه به پدغه ایتلاف کې ورګډه شي. "

### روسیه او برتانیا

روسیه چې د سوریې له نژدې متحدانو څخه ده، په سوریه کې د لودیځ د هر ډول پوځي ګام پر ضد خبرداری ورکړی دی.

ښاغلي لاوروف دغه راز ویلي پرته د امنیت شورا له ملاتړه د زور کارول به 'له نړیوالو اصولو ښکاره سرغړونه 'وي.

د ملګرو ملتونو امنیت شورا غړي د سوریې د بحران په اړه سره وېشلي دي.

روسیه او چین په سوریه کې له پوځي مداخلې سره مخالف دي، خو فرانسه او برتانیا خبرداری ورکوي، چې د 'سختې اړتیا پر مهال د انسان دوستانه شرایطو پر بنسټ د ملګرو ملتو له اصولو تېرېدل وجود لري.

د برتانیا د لومړي وزیر یو ویاند وایي، دغه هېواد د سوریې پر وړاندې د مناسب پوځي ګام پورته کولو لپاره شونې پلانونه جوړوي.

## د علم او عرفان یوه بله ډیوه مړه شوه

شهید الحاج عظیم خان (نایل) د حاجي عباس خان زوی د بهرام خان لمسی د دولت زایو د چینو د کلي اوسېدونکي چې په ۸/۲/۱۳۳۰ کال کې دنیا ته سترګې وغړولې په ۷ کلنۍ کې چپرهار ښوونځي کې شامل شوې په ۱۳۴۶ کال کې د چپرهار د منځني ښوونځی د نهم ټولګي څخه په اوله درجه فارغ شوې او ثانوي زده کړې یې د ننګرهار عالي لیسه کې سرته رسولي په ۱۳۵۰ کال د ننګرهار عالي دارالمعلمین د مسلکي ۱۳ ټولګي څخه فارغ چې د فراغت سره سم د جلال آباد د تجربوي لېسه کې د ښوونکي په صفت مقرر او ورپسې د قندوز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ مرکزي ښوونځي کې د ښوونکي په صفت تبدیل شوې د دوه کاله مسافرت دورې د تېرېدو وروسته بېرته د ننګرهار ولایت د چپرهار عالي مرکزي لېسه کې د سرښوونکي په صفت او تر ۱۳۵۷ کال پورې خپله مقدسه دنده ترسره کړې.

په ۱۳۵۸ کال د جدي په ۱۵ نېټه د مجاهدینو په اتحادی ګروپونو کې د حزب اسلامي سره شامل او د جهاد په پاکه دوره کې د سرګروپ او حتی د جبهې د قوماندان او مالي چارو کې فعاله ونډه اخېستې چې د خپلې کورنۍ ډېر شهیدان یې پدغه مقدس ډګر کې ورکړي.

د هجرت په موده کې یې ټولو هېوادوالو ته نه هېرېدونکي خدمتونه کړي. د هجرت د دیار د راستنېدو وروسته د دولت زایو د قوم د یو سپین ګیري او مشر په توګه خپله وظیفه ترسره کړې چې د لوی چپرهار په کچه یو منلې او برده باره شخص تېر شوې چې وروسته د تعلیم او تربیې د آمرینو او د روښنفکره خلکو په غوښتنه د چپرهار د پوهنې مدیر په صفت په ۱۳۸۰ کال کې مقرر شوې چې وروسته د یو څه مودې تېرېدو په ولسوالۍ کې دځه وخت له پاره د پوهنې مدیریتونه له منځه تللي وه. نو نوموړې د چپرهار د عالي مرکزي لېسې د مدیر په صفت پاتې شو او په ۱۳۸۶ کال کې دوباره د چپرهار د پوهنې د مدیر په صفت مقرر او د پوهنې ریاست د محترم مقام د لزوم دید له مخې د آزادې سیالۍ په نتیجه کې ټول د پوهنې مدیران باید بلې ولسوالۍ کې مقرر شي. نوموړې د روداتو ولسوالۍ ته د پوهنې د مدیر په صفت تبدیل شوې چې شپږ میاشتې وروسته بیا د چپرهار د پوهنې د مدیر په صفت راتبدیل شوې دا چې نوموړې د پوهنې مدیر بلکې د شاګردانو او ښوونکو ترمنځ یې د وروروليۍ فضاء برابره کړې چې د خدمت په موده کې یې ددې منطقې د ابادۍ او سمسورتیا له پاره نه ستړې کېدونکي هلې ځلې کړې، چې مثال یې په عمومي تعلیماتو کې یوویشت بابه لېسې، یوولس بابه منځني ښوونځی، شپږ ډېرش بابه لومړني ښوونځي او په اسلامي تعلیماتو کې څلور بابه دیني مدرسې او درې بابه دارالحفاظونه، یو باب د کرنې مسلکي لېسه او یو باب دارالمعلمین چې د پوهنې مدیریت په شمول ۷۸ بابه کېږې جوړ کړي دي، چې په دې کې ۱۱۵۰ تنو اداري تدریسي او خدماتي پرسونل او ۴۰۰۰۰ د ذکورو او اناثو زده کوونکو او ددوی د اولیاو ترمنځ د صمیمیت فضاء برابرول د نوموړې د خدمتونو یوه ځلانده بېلګه ده.

البته یوه ډېره د پام وړ خبره داده چې د چپرهار په ولسوالۍ کې د خپل نفوذ، اثر او رسوخ له کبله د چپرهار ټولو مکاتبو ته وړیا ځمکو پیدا کول او هغوی ته د تعمیرونو جوړول یو نه هېرېدونکي خدمت چې د چپرهار د معارف په تاریخچه کې به تل له پاره درج وي. او علاوه پر دې د مکاتبو د سمسورتیا له پاره د نهال شانۍ په وخت کې د نیالګیو تدارک او په ټولو مکاتبو وېشل او په مکاتبو کې باغونه جوړول، او د چپرهار داخل خدمت دارالمعلمین ۵۲۵ تنه شاګردان په درې دورو کې فارغان ورکړي او ټولنې ته یې د خدمت له پاره وړاندې کړي. د چپرهار دارالمعلمین له پاره یې د ژوند په وروستۍ ورځ یې د روان کال د کانکور په ازموینه کې د ۱۲۰ تنو بریالیو زده کوونکو د جذب احکام اخیستي.

نوموړې د ۶۲ کالو په عمر د ۴۱ کاله خدمت وروسته په ۲۸/۵/۱۳۹۲ نېټه د دوشنبې په ورځ د سهار په ۷:۳۰ د خپل ورسپارل شوې دندې د ترسره کولو په خاطر په لاره کې د ناپېژانده وسلوالو لخوا په شهادت ورسېده.

انا لله و انا الیه راجعون

حزب اسلامي افغانستان د خپل دې علم پروره مجاهد او خدمتګار مشر دا ناځوانمردانه برید د هېواد پر معارف برید بولي او عاملین یې د علم، عرفان او افغانستان دښمنان ګڼي.

حزب اسلامي افغانستان اجرائیه او رهبری شورا په دې لوی غم کې د شهید له کورنۍ، د ننګرهار د ولسونو او په ځانګړې توګه د هېواد د معارف سره خپل ځان شریک بولي او پدې درددوونکې پېښه د زړه له تله درديدلی، د پروردګار له درباره د شهید استاد نایل لپاره د فردوس جنت او د کورنۍ او سنګر ملګرو ته یې د جمیل صبر غوښتنه کوي. (روح دې ښاد او یاد دې تل وي)

د شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمیرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه سترديږي - بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین خواجه وحیدالله | آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com



# افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

## پاکستان د طالب مشرانو سره د خبرو لپاره دروازه ده

د ترکیې چاپ ورځپاڼې (TodaysZaman)پاکستان ته د ولسمشر کرزي د سفر په اړه یوه مقاله خپره کړې ده.

ورځپاڼه لیکي: پاکستان په نویمه لسیزه کې قدرت ته د طالبانو په رسیدو کې لوی لاس درلود.

د افغانستان او امریکا د حکومتونو له نظره پاکستان د طالبانو له هغو رهبرانو سره چې په هغه هیواد کې پټ دي د مذاکرو دروازه ګڼل کیږي.

جمهور رییس کرزي تیره ورځ (دوشنبه) په اسلام اباد کې وویل چې؛ له پاکستانه یې په ټینګار غوښتنه کړې چې د طالبانو او د افغانستان د سولې د عالي شورا د غړو ترمنځ د خبرو زمینه برابره کړي.

ورځپاڼه وایي، چې د پاکستان صدراعظم نوازشریف په خپلو خبرو کې جمهور رییس کرزي ته د ملاتړ ډاډ ورکړ، خو د افغانستان د سولې د عالي شورا هیڅ ذکر یې ونه وکړ او خپلې خبرې یې د اقتصادي مرستو په یادونه خلاصه کړې.

فارن پالیسي خپرونه لیکي، امریکایي او ایتلافي ځواکونه له افغانستانه د وتلو په حال کې دي او د ټولو سترګې د را روان کال ټاکنو ته دي. د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو ټاکنې د حمل په شپاړسمه پلان شوې دي.

په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ د ازادي خپرولو عملیات په نوم تر پوځي ماموریت وروسته د دې هیواد راتلونکي له سوالونو سره مخامخ ده او په دې هیواد کې را رواني ټاکنې به د ملکي حکومتونو ترمنځ د قدرت د سوله ایز انتقال لومړی ازموینه وي.

د فارن پالیسي په لیکنه ، جمهور رییس حامد کرزی د دې چانس لري چې په تاریخ کې خپل نوم د داسې سوله ایز انتقال د رهبر او د نوي افغانستان د پلار په توګه ثبت کړي.

خو لکه څرنګه چې فارن پالیسي خپرونه لیکي، جمهور رییس کرزي ښایي مخکې لا دا اشاره ورکړې چې ګر کومه حده تنګ غواړي چې ښایي وحشتناکې پایلې ولري.

په افغانستان کې د ولسمشرۍ لپاره د کاندیدانو د نومونو د ثبت رسمي بهیر په راتلونکې یوه میاشت کې پیل کیږي او دا تلوسه چې ولسمشر کرزی به د کوم ځانګړي کاندید ملاتړ وکړي وخت په وخت زیاتیږي.

مثلا د تیرې چهارشنبې په ورځ په کابل کې یو شمیر خبري سرچینو وویل چې؛ جمهور رییس حامد کرزي د یو شمیر سیاسي ګوندونو له استازو سره په کتنه کې د جمهوري ریاست لپاره د عبدالرب رسول سیاف د کاندیدی ملاتړ کړی دی.

عبدالرب رسول سیاف اوه شپیته کلن دي چې د بشري حقونو د څارنې نړیوالې ادارې په بشري ضد جنایتونو تورن کړی او د کابل په افشارو سیمه کې قتل عام یې یوه بیلګه بلل کیږي.

د دې خبر تر خپریدو یوه اونۍ وروسته ولسمشر کرزي د سیاف له کاندیدی د خپل ملاتړ رپوټونه رد کړل خو یوشمیر کسان چې په لومړی غونډه کې حاضر وو وایي چې ولسمشر کرزی لا هم د ولسمشرۍ لپاره د سیاف څخه په خپل ملاتړ ټینګ ولاړ دی.

فارن پالیسي خپرونه لیکي: ښایي د جمهور رییس حامد کرزي له نظره د عبدالرب رسول سیاف د کاندیدی ملاتړ داسې یې ازاره تاکتیک وي چې ده ته د راتلونکي ډاډ ورکولای شي.

خو د خپرونې په وینا :

که چیرې ولسمشر کرزی د خپل دې نظر په باطلولو کې بیره ونه کړي نو په خطر بدلیدلای شي. په داسې هیواد کې چې ثبات نه نه دی د سیاف کاندیدي به د انتخاباتو هر هغه امکان له منځه یوسي چې د قومي ګروپونو ترمنځ په کورنۍ جګړه د بدلیدو مخنیوی کوي.

### د سولې شورې او طالبانو ترمنځ ...

په اعلامیه کې راغلي، د افغان سولې پر بهیر، امنیتي مسایل او د افغانستان د سولې د عالي شورا او طالبانو ترمنځ خبرو ته زمینه برابرول د دواړو خواوو د خبرو اصلي محور و.

د ارګ مانۍ وايي، تمه ده چې، پاکستان پر ځانګړي شویو پریکړو او خبرو چې د دواړو خواوو ترمنځ شوي عملي ګامونه واخلي. خو لا تراوسه دا نه ده روښانه چې په دې سفر کې د افغان سولې او خبرو ته د طالبانو د اړ ایستلو په اړه کومې پریکړې شوي دي.

په لومړي ورځ افغان ولسمشر او د پاکستان صدراعظم د بندو دروازو ترشاه سره خبري اترې کړي دي.

دواړو خواوو تر اوسه پر یو شمیر اقتصادي مسایلو لکه، د تورخم — جلال اباد د دویم سړک جوړول، له پاکستانه افغانستان ته د اورګاډي پټلۍ غځول او پر کونړ سیند د برېښنا د بند جوړولو سند لاسلیک کړی دی.

د جمهوري ریاست په اعلامیه کې راغلي، چې ولسمشر کرزي د پاکستان له صدراعظم څخه غوښتي چې؛ افغانستان ته سفر وکړي او نوازشریف هم ویلي چې، په نږدې ورځو کې به افغانستان ته سفر وکړي.

د جمهوري ریاست د معلوماتو له مخې ولسمشر کرزي په خپل دغه دوه ورځني سفر کې د پاکستان د صدراعظم سربېره، د پاکستان د عوامي نیشنل ګوند له مشر اسفندیار ولي خان، د عوامي پښتونخوا ګوند له مشر محمود خان اڅکزي او افتاب احمد خان شېر پاو سره هم کتلي دي.

### در منزل جنرال دوستم روی ...

فیض الله ذکی سخنگوی این حزب به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت که در یک بخش این نشست بیشتر روی ایجاد هماهنگی میان احزاب و شخصیت های مطرح کشور گفتگو صورت گرفته است.

آقای ذکی در پاسخ به سوالی که آیا در این نشست اشتراک کننده ها روی کاندیداتوری شخص مشخص هم صحبت کردند یا نه گفت:

"نخیر، روی کاندید مشخص بحث نشد و اصلاً اجندا هم این نبود. اجندا مشاوره و تبادل نظر روی بهترین راه های همکاری برای تامین آزادانه بودن و شفاف بودن انتخابات و ایجاد تفاهم مبنی بر این که اگر کاندیدی برنده می شود و وظایف خود را موفقانه پس از انتخابات انجام دهد، مشاوره در همین اطراف بود."

در این نشست داکتر زلمی خلیلزاد سفیر سابق امریکا در کابل، علی احمد جلالی وزیر داخله، پیشین، قیوم کرزی برادر حامد کرزی، عبدالله عبدالله رهبر ایتلاف ملی، احمد ضیا مسعود رهبر جبهه، ملی، یونس قانونی، حاجی محمد محقق، حنیف اتمر، عطا محمد نور والی بلخ و امرالله صالح اشتراک داشتند.

آقای ذکی هم چنان گفت که اشتراک کننده های این نشست روی ادامه، برگزاری همچو نشست ها به هدف بحث روی انتخابات آینده موافقه کردند.

در این نشست عبدالرب رسول سیاف شخصی که گفته می شود یکی از کاندیدان احتمالی انتخابات ریاست جمهوری سال آینده است، اشتراک نداشت.

حدود هشت ماه دیگر به برگزاری این انتخابات باقی مانده و قرار است در کمتر از یک ماه دیگر پروسه، ثبت نام کاندید های انتخابات ریاست جمهوری آغاز گردد.

احزاب سیاسی مخالف حکومت از چند ماه بدین سو نشست های متعدد را برای انتخاب یک کاندید مشخص برگزار کرده اند، اما این احزاب گفته اند که تا اکنون در این ارتباط به نتیجه، نهایی دست نیافته اند.

### همکاری با افغانستان برای منافع ...

روند مصالحه و اتحاد افغانستان انجام خواهد داد و به گفته زرداری، چنین همکاری برای منافع پاکستان هم نقش حیاتی دارد.

زرداری همچنان گفت که برای برخورد با وضعیت فعلی منطقه و همچنان پروسه صلح افغانستان، به تلاش های مشترک و هماهنگی نزدیک نیاز است.

در گزارش های پیش از این گفته شد که نواز شریف صدراعظم پاکستان یک تفاهمنامه را در خصوص همکاری در پروسه صلح با رییس جمهور کرزی امضا کرد.

آقای شریف گفت که کشورش هر گونه تلاش ممکن را برای گفتگو های صلح با طالبان انجام خواهد داد.

نواز شریف بدون اشاره به موجودیت رییس و اعضای شورای عالی صلح افغانستان، صحبت هایش را با قرارداد ها و روابط اقتصادی دو کشور به پایان رساند.

اما رییس جمهور کرزی، از تهدید ها برای هر دو کشور یاد کرد و گفت که افغانستان و پاکستان باید به صورت مشترک برای بهبود امنیت کار کنند:

"برای هر دو کشور، مهم ترین نگرانی، نبود امنیت برای اتباع این کشور ها و تهدید های تروریستی است که مردم ما، حکومت ما، سربازان ما و نیرو های امنیتی ما را هدف حمله قرار می دهند. در اینجا، ما نیاز داریم که توجه مهم از سوی هر دو حکومت به همین مورد متمرکز باشد."

انتظار می رفت رییس جمهور کرزی و تیم همراه اش به شمول وزیر امور خارجه، وزیر مالیه، رییس شورای عالی صلح و سایر مقامات حکومت افغانستان، دیشب به کابل باز گردند.

اما ریاست جمهوری افغانستان با نشر خبرنامه، گفته که این دیدار به دعوت رهبران پاکستان، جهت ادامه مذاکرات دیروز، تمدید شد.

در جریان ، یک تفاهمنامه اقتصادی میان حضرت عمر زاخیلوال وزیر مالیه افغانستان و همتای پاکستانی اش محمد اسحق دار، امضا شد.

اعمار بند برق بالای دریای کنر، پروژه خط آهن از چمن تا قندهار و از پشاور تا جلال آباد، احداث سرک دوم شاهراه تورخم جلال آباد و امتداد شاهراه »موتر وی «از پشاور تا کابل، از مهم ترین مواد این تفاهمنامه استند.

پاکستان همچنان گفته که مشکل اموال ترانزیتی تاجران دو کشور، در جریان دو هفته حل خواهد شد.

### هرات کې د ملي پیوستون ...

هرات کې د ملي پیوستون اداري یوه چارواکي انجنیر محمد قاسم ابوبي بي بي سي ته وویل، له دغو وژل شویو کسانو څلور یې د نورو ولایتونو او دوه د هرات اوسېدونکي دي.

دغه کسان دوې ورځې مخکې د هرات ګلران ولسوالۍ کې نا پېژاندو وسله والو تښتولي وو.

ایوبي وایي، تر اوسه د وژل شویو ماموریتو څلور مړي هرات ته لیږدول شوي.

نوموړي د ملي پیوستون د دغو ماموریتو د وژلو پړه د حکومت پر وسله والو مخالفانو اچولې، خو تر اوسه یې چا پړه نه ده منلې.

ګلران د هرات شمال لوېدیځ کې نسبتاً نا امنه ولسوالي ده.

هرات کې د ملي پیوستون اداره وایي، دا ډول پیښې کېدای شي په ټولو سیمو کې د ملي پیوستون د پروګرام پر څرنګوالي ناوړه اغېز وکړي.

څو ورځې مخکې، د هرات کرخ ولسوالۍ کې د یوه ودانیز شرکت نهه کارکوونکي وژل شوي وو.

ملي پیوستون وایي، چې وژل شوېو ماموریتو یې کلیوالو سیمو اړوندې یوې پروژې کې کار کاوه.

ویل کېږي، چې دغه کسان د ګلران نوتاکي سیمه کې وژل شوي، چې مړي یې د سې شنبې پر ګهیځ موندل شوي.

په دې وروستیو کې افغانستان کې د تښتونو پېښې ډېرې شوې دي.

### بانک جهانی پنج میلیون دالر ...

همچنان در خبرنامه آمده که است که آلمان متعهد شده تا در قسمت ایجاد پوهنځی معدن در چوکات پوهنتون بلخ، با وزارت تحصیلات عالی کمک نماید.

به اساس معلومات منبع، وعدهٔ این همکاری ها روز گذشته در ملاقاتی که پوهاند دوکتور عبیدالله عبید با نماینده بانک جهانی؛ و ملاقات عبیدالله عبید و وحید الله شهرانی وزیر معادن با نمایندگان موسسات همکاری های انکشافی و تخنیکی آلمان (جی ای زید) و موسسه "داد" آلمان داشتند، صورت گرفت.

در پایان خبرنامه؛ بدون ارائه جزئیات بیشتر آمده است که با ایجاد پوهنځی معادن در پوهنتون بلخ، ۵۰۰ محصل در بخش معدن شناسی و استخراج معادن، تحت آموزش قرار خواهند گرفت.

### اسلام اباد ته د کرزي پر سفر ...

دواړه هېوادونه غواړي، چې رامنځته شوی تاوتریخوالی د خبرو له لارې حل کړي او که چیرې د پاکستان او افغانستان ترمنځ تاوتریخوالی کم شي، نو دا نه یوازې دغو دواړو هېوادونو، بلکې د سیمې په ګټه هم دی.

مشرق ورځپاڼه؛

دغې ورځپاڼې چې د خپل لومړي مخ سرټکي یې اسلام اباد ته د افغان ولسمشر حامد کرزي سفر ته ځانګړی کړی دي.

ورځپاڼې لیکلي چې اسلام اباد ته د حامد کرزي سفر د امریکا د متحده ایالاتو د فشار نتیجه وه.

ورځپاڼه لیکي، چې له افغان ولسمشر سره د صراعظم نواز شریف لیدنې تشریفاتي بڼه لرله او باید د ډېرو لاسته راوړنو تمه تري ونه شي.

نوای وقت ورځپاڼه؛

نوای وقت ورځپاڼې لیکلي، چې افغان ولسمر حامد کرزي په داسې حال کې د پاکستان له نوي صدراعظم سره ولیدل، چې تراوسه پورې لا د پاکستان نوي حکومت خپله بهرنۍ پالیسي په بشپړه توګه نه ده اعلان کړې.

همداراز ورځپاڼې د افغان دولت هغو ادعاوو ته په اشاره، چې ګواکې په پاکستان کې ترهګرې ډلې شته دي او د پاکستان استخباراتي اداري یې تر شاه ولاړې دي، لیکي چې ترڅو پورې په پاکستان کې دننه د ترهګرو ځالې موجودې دي، پاکستان نشي کولای چې د ګاونډي هېواد افغانستان او نورې نړۍ اعتماد ترلاسه کړي.

ایکسپرېس ټریبون؛

د پاکستان د انګلیسي ژبې ورځپاڼې اکیسپریس ټریبیون لیکلي، چې په افغان ولسمشر حامد کرزي په اسلام آباد کې له صدراعظم نواز شریف سره په داسې حال کې لیدلي، چې ټاکل شوې ده د ۲۰۱۴م کال تر پایه پورې له افغانستان څخه بهرني سرتېري ووځي.

ورځپاڼه مخکې لیکي، چې افغانستان او پاکستان باید له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو تر وتلو مخکې رامنځته شوی تاوتریخوالی له منځه یوسي او دوه اړخیزې اړیکې لا پیاوړې کړي، ګنې دواړه هېوادونه به له سترو ستونزو سره مخ شي.

پاکستاني رسنیو اسلام آباد ته د افغان ولسمشر حامد کرزي سفر مهم ارزولی او تمه یې څرګنده کړې ده، چې ددې سفر په ترڅ کې به د دواړو هېوادونو ترمنځ رامنځته شوی تاوتریخوالی له منځه لاړ شي.

### چینایی ها خواستار شرایط جدید ...

حکومت بهترین تلاش را برای مذاکره با شرکت های چینایی انجام می دهد، اما شرایط قرارداد کاملاً واضح است و هردو جانب به آن توافق کرده اند.

نهاد مستقل دیده بان ضد فساد افغانستان (IWA) می گوید، چینایی ها همچنان خواستار به تعویق انداختن آغاز تولیدات تا سال ۲۰۱۹ شده اند.

شرکت چینایی گفته است، گفتگوها صورت خواهد گرفت و این پروژه با دشواری های اقتصادی و امنیتی مواجه است.

در یک ایمل این شرکت به آژانس خبری رویترز گفته شده است:

در مورد اجندا به شمول مفاد و محدوده، این قرارداد، برنامه، اقتصادی این پروژه، تدابیر امنیتی و شرایط آغاز کارهای ساختمانی، با حکومت افغانستان صحبت می شود.

به نوشته، آژانس خبری رویترز؛

معدن مس عینک دارای بیشترین مقدار مس در جهان بوده و در یک ولایت خطرناک افغانستان موقعیت دارد که اکثراً مورد حمله، شورشیان قرار می گیرد. شورشیان موفق شده اند کار استخراج از این معدن را به تعویق انداخته، کارگران آن را با فرار مواجه سازند.

جواد نورانی از نهاد مستقل دیده بان ضد فساد افغانستان (IWA) می گوید، مقامات افغان در نظر دارند تا به چین مسافرت کرده، مسایل مربوط به حل دشواری های موجود در برابر این پروژه را با وزارت معادن چین حل کنند.

زمانیکه بهره برداری پروژه، مس عینک آغاز شود، عاید سالانه، آن ۵۰۰ ملیون دالر خواهد بود و حدود ۷۵۰۰۰ شغل کاری را ایجاد خواهد کرد.